9th (Fresh / Reappear)

نوټ:- ددویمې او دریمې برخې د پاره وخت دوه ګهنټې او څلویښت منټه دے.

## دویمه برخه

نمبرې: ۳۶

سوال نمبرII: په لاندینی جزونو کښې د نهه (9) سوالونو مختصر ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابر دی.

(۱) د استعاره تعریف اولیکئ او ارکان یې تفصیل سره بیان کړئ.

(۲) په لویه خدایه حمد کښې اجمل خټک په خپله وینا کښې چاته مخاطب دے؟

(۳) د لاندینو ټکو اپوټه اولیکئ.

مزکه ، پاک ، اول ، زیات

(۴) خطبۀ حجته الوداع مونږ ته د څۀ پیغام راکوي؟

(۵) په سوات کښې کومه غله کیږي؟

(۶) د بادشاه غوښه څنګه ویلي شوه؟

(۷) خان زلي د پلار قاتل ولې پرېښود؟

(۸) اشراق څۀ ته وايي؟

(۹) اهرام مصر د دنیا په څو عجوبو کښې شمار دي؟

(۱۰) د یو حقیقت یو افسانه مرکزي خیال څۀ دی؟

(۱۱) د ملنګ کچکول سبق مونږ له څۀ پیغام راکوي؟

(۱۲) کومو قومونو د سردار محمد خان ترین ملګرتیا کړې وه؟

## دریمه برخه

نمبرې: ۲۴

نوټ:- په لاندینی سوالونو کښې د دریو سوالونو ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابر دی.

سوال-III لاندنی عبارت په آسانه او روانه پښتو کښې اولیکئ.

د کلپانۍ په لیمو اوښکې روانې وې، د بلږ ناله حیرانه وه، لښکر کوټ مشوش وه، مغل ډېر خاموشه وه، سیکرے فکرمند وه ، بانیزے ، کمالزے ، امازے بولاق او اتمان لکه چې د جرنیل بخت خان په مشرۍ کښې جرګه شوې وي لګي چې د پښتون د مستقبل حقله څۀ سکوته فیصله کوي.

یا

حضرت شیخ فرید الدین ګنج شکرؒ خدمات بیان کړئ.

سوال-IV د لاندینی شعرونو تشریح په آسانه پښتو کښې اولیکئ.

ستا عزت چې نه وي زۀ به نوم او عزت څۀ کړمه
ته چې خوار و زار یې زه به خوب او راحت څۀ کړمه

ستا سر چې وي ټیټ نو زۀ به شان او شوکت څۀ کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما

یا

تۀ چې ګورې ټول جهان کښې نو خان ګورې
زۀ د خان په آئینه کښې جهان ګورم

چې څۀ ډوره یې د یار له ملکه راوړه
خکه ډوره ډوره هر یو کاروان ګورم

سوال-V په لاندینو عنواناتو کښې په یو باندې خونده وره قصې اولیکئ.

۱) د احسان بدله احسان ۲) چې څۀ کرې هغه به ریبې ۳) راست اوسه په نیغه لار کښې ملاست اوسه

یا

خپل ویلج کونسل چیئرمین ته د صفائی د پاره درخواست اولیکئ.

سوال-VI د لاندینی عبارت په پښتو کښې ترجمه وکړئ.

کبھی آپ نے سوچا ہے کہ جوڑی کیا ہوتی ہے، یہ سوال اور یہ بھی کہ قدرت نے انسانوں کیلئے کیسا پیارا رشتہ بنایا ہے۔ ایک وہ لڑکا یا مرد جسے اس لڑکی یا عورت نے کبھی دیکھا ہو تا بھی ہے کہ شادی کے بعد ایک دوسرے کے مکمل کائنات بن جاتے ہیں۔

یا

په لاندینو کښې په یو باندې نوټ اولیکئ.

۱) منشی احمد جان ۲) سید محمد تقویم الحق کاکا خیل ۳) اجمل خټک

www.ilmkidunya.com